**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**ننګرهار پوهنتون**

**انجینري پوهنځی**

**د اوبو زیرمو او چاپیریال ساتنی انجینری څانګه**

# د هایدرولیک مضمون لکچرنوټ
# (Hydraulic Subject Lecture Note)

ماخذ: هایدرولیک انجنیری مجراهای باز و بسته (پوهاند دوکتور محمد قاسم صدیقی)
Nptl درسی مواد او انترنت.

کال 2020

# سریزه

څرنګه چې اوبه یوه حیاتي ماده ده او الله (ج) په طبیعت کي په پریمانه توګه پیدا کړي ده. اوبه نه تنها د بشر د ژوند کولو لپاره یوه حیاتي ماده ده بلکه د بشریت د پرمختګ لپاره یو اساسی جز بلل کیږي. هر څومره چې بشر متمدن کیږي په هماغه اندازه یی د اوبو مصارف زیاتیږي. لکه فابریکي، ساختماني تاسیسات، کورونو کي د څکلو په منظور د اوبو استعمال، زراعت، صنعت او داسي نورو مواردو کي د اوبو د استعمال څو برابره زیاتوالي. نو په همدي اساس اوبه باید په متوازنه توګه استعمال شي او د اوبو د کمیدو او د اوبو د کمښت څخه مخنیوي ترسره شي.

هایدرولیک له دو یونانی کلمو څخه اخستل شوی چی هایدرو د اوبو په معنی او لیک د حرکت څخه مشتق شوی چی په معنی د مایعاتو حرکت جریان څخه بحث کوی.

په دی لکچر نوت کی په سرخلاصو مجراءو بحث کیږی او همدارنکه د مایعاتو د حرکت قوانین او دهغه استفاده په علم د هایدرو تخنیک کی بحث صورت نیسی .

علم د هایدرولیک د اوبو زیرمو منابعو په انکشاف کی ډیر زیات اهمیت لری ټول هغه ساختمانونو چی په طبعی مجراو کی او همدارنکه د اوبو زیرمو د مدیریت لپاره جوړیږی بیدون د هایدرولیک علم پوهی نه امکان نه لری .

په عمومی توکه د هایدرولیکی ساختمانو اساسی موخه داده چی د اوبو د موجوده سرچینو (سیندونو،جهیلونه ،سمندرونه او دځمکی لاندی اوبو) د طبیعی رژیم خوندی پاتی کیدو سره سره باید دهغوی نه په معقول او اقتصادی توکه د ورځینیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره کټه واخستل شی.

# اول فصل

## ۱,۱ سر خلاصی مجراء ( Open Channel)

**سرخلاصی مجراء :** سرخلاصي مجراءګاني داوبو یوتیرونکې هایدرولیکي ساختمان دی چې په کې اوبه ثقل د قوي یعنې اتمسفیر فشار لاندی حرکت کوي. یا په بل عبارت کله چې د اوبو د جریان آزاده سطحه د اتمسفیر سره په تماس کې وی نو دا مجرا دسرخلاصي مجراء په نامه سره یادیږی.

**(Channel) مجراء**: چینل د هغه مجرا څخه عبارت ده چې په شکل د طبیعی یا مصنوعی جوړیږي او اوبه په نوموړي مجرا کې بدون د فشار حرکت کوی او د اوبو سطحه یې آزاد وي.

نوټ: چینل امکان لري چې سر لوڅه مجرا وي اړ یا سرپټه اما اساسی شرط یې دا ده چې اوبه په نوموړي مجرا کې بیدون د فشار حرکت کوي.

دا هم باید وویل شي چې د مجراء پورتنۍ برخه که پټه وی او که خلاصه خو چې ازاده سطحه یې د اتمسفیر سره په تماس کې وه ،د سرخلاصی مجراء په نامه سره یادیږی.

**(Canal) کانال** :د هغه سر خلاصی مجراء څخه عبارت ده چی مصنوعی ډول سره جوړیږی .

## سرپټه مجرا(closed conduit)

د هغه مجرا څخه عبارت دی چي په ټولو جهتونو سره په جامد جسم احاطه شوی وي او اوبه په نوموړی مجرا کې د فشار لاندې حرکت کوي.

نو دلته په عنوان کی ددی لپاره د کلمه ذکر شوی چی ټول هغه مجراءوی چی په طبعی شکل او مصنوعی شکل جوړیږی په دی مضمون کی تر بحث لاندی نیسو د لکچر نوت درس د مفرداتو د عنوانو مطابق ترتیب شوی ده.




سر پټه    سرخلاصه مجراء



سرخلاصه مجراء
مجراء

## ۱,۲ د سرخلاصو مجراګانو ډولونه (Types of Open channels)

### ۱- کانال (Canal)

کانال د مصنوعی مجرا څخه عبارت دي چې د کانکریټ، تیګو او یا خاورې څخه جوړیږي. او اوبو دآبیارۍ، ابرسانی او د بریښنا تولید لپاره انتقالوی.



### ۲- ترناب ( Aqueduct)

ترناب هغه هایدرولیکی مجراء څخه عبارت دی چې د ځمکې د سطحې څخه پورته د اوبو د انتقال لپاره وظیفه اجرا کوي.دا ساختمان د فل زي تختو،خشت ګارې ،سنګ کارې ،کانکریټو ،اوسپنیز کانکریټو او لرګیو څخه جوړیږی.

کله چې کانال په خپل مسیر کی سیلبر ،سیند او یا خوړ قطع کړی نو که چیری د سیلبر یا سیند عرض کم وی او عمق زیات وی د اوبو د انتقال د کانال د سر څخه د ترناب نه استفاده کیږی.



۳- پلچک (Culverts)

پلچک د هغه هایدرولیکی مجرا ده څخه عبارت ده چی کانال او سرک د تقاطع په ساحه کی د سرک لاندی اوبو تیرلو لپاره جوړیږی.



پلچک

Chute -۴

هغه سر خلاصه مجراء ده چی تندو میلان ولری .



**۵- ډراپ (Drop)**

عبارت د هغې مجرا څخه دی په کوم کې چې اوبه د یوې لنډی فاصلې د طې کولو نه وروسته غورځیږی.

چی د کانال په مسیر کی د مختلفو اهدافو لپاره جوړیږی.



**۶-تونل (Tunnel)**

عبارت د هغې اوږدې او بندي مجرا څخه دي په کوم کې چې اوبه د غونډیو(Hills) څخه راانتقالیږی ،د اوبو جریان په کې  معمولآ قسمآ ډک وي.



## Geometric parameters of a channel

## ۱,۳د مجرا د عرضي مقطع هندسی پارامترونه عبارت دي له:

1. د مجرا ژوروالي (depth of channel) :عبارت دهغې عمودی فاصلی څخه دي کومه چې د مجرا د ژوري نقطې څخه تر اوبوسطحې پوري رسيږی.
2. په مجرا کې د اوبو پورتنې سطحه (Water surface elevation or Stage).
3. دمجرا پورتنې عرض (Top width of channel).
4. د جریان د عرضی مقطع مساحت (Area of channel cross-section) .
5. لوند شوی محیط (Wetted perimeter) :چې په لنډ ډول سره د (P) په حرف سره ښودل کیږی.
6. هایدرولیکي شعاع (Hydraulic Radius):چې په لنډ ډول سره د (R) په حرف سره ښودل کیږی.
7. دمجرا تل (Thalwage) :د مجرا تر ټولو ژورې نقطې څخه عبارت دي.



| Canal cross-section | Cross-section area A ($m^2$) | Wetted perimeter P (m) | Hydraulic radius R = (2) ÷ (3) (m) | Water top width B (m) |
|---|---|---|---|---|
| (1) | (2) | (3) | (4) | (5) |
| B = b, h | $bh$ | $b + 2h$ | $\frac{bh}{b + 2h}$ | $b$ |
| B, h, b, 1, z | $(b + zh)\,h$ | $b + 2h\sqrt{1+z^2}$ | $\frac{(b + zh)\,h}{b + 2h\sqrt{1+z^2}}$ | $b + 2zh$ |
| B, h, 1, z | $zh^2$ | $2h\sqrt{1+z^2}$ | $\frac{zh}{2\sqrt{1+z^2}}$ | $2zh$ |

د کانالونو په هکله عمومی معلومات او ډیزاین یی په راتلونکو درسونو کی تشریح کیږی.

## ۱,۴ د اوبو جریان تفاوت په سرخلاصو او سرپټو مجراګانو کې

**Deference between open channel flow and pipe flow**:

- **لومری فرق:** په سر خلاصو مجرا (open channel) کې د اوبو سطحه د اتومسفیر سره تماس لری اما په سرپټو مجرا (closed conduit) کې د اوبو سطحه د اتومسفیر سره تمام نه لري.
- **دوهم فرق:** سر خلاصو مجراګانو کې د (H.G.L) (Hydraulic Gradient line) د اوبو سطحی سره منطبق ده اما په pipe flow یا فشار لرړنکي یا فشار لرونکي مجرا او یا سرپټو فشار لرونکې مجرا کې HGL د اوبو سطحی سره منطبق نده بلکه موازي شکل په یو ارتفاع کې قرار لری (شکل ۱،۲)

Energy gradient line of open channel flow




هغه لین چې ( $z_1 + h_1$) په پورتنۍ او لاندنۍ نقطو کې سره وصل کړي HGL په نوم سره یادیږي.

هغه لین چې حرکي انرژي په دو نقطو کې وصل کړي EGl په نوم سره یادیږي.

HGL: Hydraulic Gradient line

EGL: Energy Gradient line







**پيزو متر:** هغه شيشه نل خخه عبارت دي چې فشار د اندازه کولو لپاره د هغه خخه استفاده کيږي

**پيتوت متر:** هغه شيشه نل دی چې قطر يې ۱۰ ملی ده چې د اوبو سرعت د اندازه کولو لپاره تری استفاده کيږي.

# Type of open channel flow

## ۱,۵ په سرخلاصو مجراګانو کې د جریان انواع

د اوبو جريان په سرخلاصو مجراګانو کې نظر فاصله او نظر وخت ته په لاندې ډول طبقه بندي شوي.

1. نظر وخت ته په Steady and unsteady تقسيم شوي.

- **Steady Flow**= د اوبو سرعت او عمق نظر وخت ته ثابت وی او تغير نه کوي.

$$\frac{dQ}{dt} = 0 \quad \frac{dV}{dt} = 0 \quad \frac{dy}{dt} = 0$$

- **Unsteady Flow**= هغه جريان ده چې د اوبو عمق او نظر يو معين وخت ته تغير وکړي

$$\frac{dQ}{dt} \neq 0 \quad \frac{dV}{dt} \neq 0 \quad \frac{dy}{dt} \neq 0$$

### 2. نظر فاصله ته په Uniform and Non uniform تقسيم شوی.

- **Uniform flow** = هغه جريان چې په يو معين فاصله کې د اوبو سرعت او عمق ثابت وی او تغير ونه کړي.

$$\frac{dQ}{dx} = 0 \quad \frac{dV}{dx} = 0 \quad \frac{dy}{dx} = 0$$




- **Non uniform flow**= هغه جريان چې په يو معين فاصله کې د اوبو سرعت او عمق نظر فاصله ته ثابت نه وی او تغير وکړي.



## 3. GVF (gradually varied flow) متغیر تدریجي جریان:

په دی نوعه جریان کې د اوبو عمق او سرعت نظر په اوږده فاصله کې په تدریجی ډول تغیر کوی.




### 4. RVF (Rapidly varied flow) متغیر سریع جریان:

په دې نوعه جریان کې عمق د جریان او سرعت په یو لنډه فاصله کې تغیر کوي. لکه د بند د دروازې لاندې د اوبو جریان.




## 5. SVF (spatially varied flow) متغیر مکانې جریان:

په دې نوعه جریان کې عمق در جریان، سرعت او مقدار د جریان نظر دیری نژدې فاصلې ته دفعتاً تغیر کوي.




**Combination of these flows in nature**

## 6. Steady uniform flow یو نواخت پایدار جریان:

په دي نوع جریان کې عمق د اوبو نظر فاصله او وخت ته ثابت وی.

$$\frac{dQ}{dt}=0 \quad \frac{dV}{dt}=0 \quad \frac{dy}{dt}=0$$

$$\frac{dQ}{dx}=0 \quad \frac{dV}{dx}=0 \quad \frac{dy}{dx}=0$$




## 7. Unsteady uniform flow ناپایدار یو نواخت جریان:

**په دی نوع جریان کې عمق نظر فاصله ته تغیر نه کوی بلکه نظر زمان ته تغیر کوي.**



## :پایدار غیر یو نواخت حریان Steady non uniform flow.8

په دې نوع جریان کې د اوبو سرعت او عمق نظر وخت ته ثابت وی اما عمق یی نظر فاصله ته تغیر کوي.

$t=t_1=t_2=t_3$




## :ناپاید غیر یونواخت جریان Unsteady non uniform flow. 9

په دې نوع جریان کې عمق او سرعت نظر فاصله اړ زمان ته تغیر کوي $t_1 \neq t_2 \neq t_3$



## نظر نوعیت ته جریان

1. **متلاطم جریان (turbulent):** پدې جریان کې د اوبو ذرات یو بل سره قطع کوي.

2. **لمیناری جریان (laminar):** پدې جریان کې د اوبو ذرات یو بل سره نه قطع کوي او یوبل سره موازی جرکت کوی.




## (نظر په مفهوم د بحراني جریان)

1. بحراني (critical)
2. د بحراني حالت لاندې (subcritical)
3. د بحراني حالت پورته یا فوق بحراني (supercritical)

نوموړی جریانونو په راتلونکو فصلونو کی په تفصیل سره تشریح کیږی.

Fundamental physical principles

## ۱,۶ د فزیک اساسی اصول

## Three basic conservation principlesد تحفظ یا بقا درې اساسی اصول

1. Conservation of Mass د کتلې د تحفظ قانون
2. Conservation of Momentum د مومنتم د تحفظ قانون
3. Conservation of Energy د انرژی د تحفظ قانون

# Conservation of Massد کتلې د تحفظ قانون

## ۱,۷ نظر په معادله د متمادیت اړ یا پیوستونکي (continuity equation)

هغه مقدار جریان چې د یو مجرا په اول مقطع کې داخل کیږي د هغه مقدار جریان سره مساوی ده چې مجرا د دوهم مقطع څخه خارجیږي. یعنی د اوبو کتله ثابت ده صرف په دواړه مقطوکې د او سرعت او مساحت کې تغیر راځي.

$A_1 V_1 = A_2 V_2$

$Q_1 = Q_2$




عملی مثال .

# ۱,۸Conservation of momentum د مومنتم د تحفظ قانون




$$P_1 - P_2 + W*\sin\theta - F_f = \rho*Q\,(V_1 - V_2)$$

يعنی هغه مقدار تغير د مومنتم په اول او دوهم مقطع کې مساوی ده د ټولو هغه خارجي قوو چې په مقطع د

اوبو عمل کوي.

$$P_1 - P_2 + W*\sin\theta - F_f = \rho*Q\,(V_1 - V_2)$$

په یوه ډیره کوچنې فاصله کې د اصتحکاک قوی ځخه صرف نظر کیږي او همدارنگه د یو کوچني α لپاره

$\sin\alpha=0$ کیږی نو پورتنی معادله په لاندې ډول لیکو.

$$P_1 - P_2 = \rho*Q\,(V_1 - V_2)$$

# د انرژي د تحفظ قانون ۱,۹Conservation of Energy

چې د برنولي معادلې په نوم هم ياديږي چې نوموړي قانون داسې ده چې د اوبو انرژي د يو مجرا په اول او دوهم مقطع کې مساوي دی يعنې انرژي په حقيقت کې نه ضايع کيږي بلکه د يو شکل نه بل شکل ته تغير

$$\frac{\alpha V_1^2}{2g} + \frac{P_1}{\gamma} + Z_1 = \frac{\alpha V_2^2}{2g} + \frac{P_2}{\gamma} + Z$$




HL= ضايعات فشاري يعنې هغه انرژی چې ضايعاتو د فشار تبديل شوي.

د مجموعي انرژي معادله د محرا د يو مقطع کې د ۳ نوعه انرژي څخه تشکيل شوي:

1. پوتانشيلي انرژي (Z)
2. فشاري انرژي($Y * cos\theta$ يا $\frac{P}{\gamma}$)
3. حرکي انرژي($\frac{\alpha V^2}{2g}$)
4. مجموعي شکل سره ليکو چې: $H = Z + Y * cos\theta + \frac{\alpha V^2}{2g}$

**عملی مثالونو :**

# دوهم فصل

## ۲/۱ مخصوصه انرژيSpecific Energy

که چيرې په سرخلاصو مجراوکې د هغه انرژی نظر د مجرا بستر (bed) ته تعین شی د مخصوصه انرژي په نوم سره یادیږي.

نو ليکلاي شوی چې :

$$E = Y + \frac{V^2}{2g}$$

**Energy per unit of fluid with respect of channel bed is called specific energy.**

**نظر د مخصوصه انرژي معادلی ته د نوموړي انرژي ګراف رسموو.**




د مخصوصه انرژي د ګراف څخه ۳ اعماق لاسته راځي چې هر یو یې په لاندې ډول تشریح کوو.

1. **بحراني عمق($Y_c$) :** د هغه عمق څخه عبارت دي چې په هغه کې مخصوصه انرژي اصغري وي.

نوت: اعظمي جریان په نوموړي عمق د مقطع په داسی سرعت سره انتقال کوي چې مجراء نه شستشو کوي او نه رسوب کوي.

2. **Super critical depth**: هغه عمق ده چې د اوبو سرعت زیاد او عمق یې کم ده چې د نوموړي عمق کې مجرا شستشو کیږي.
3. **Sub critical depth**: هغه عمق ده چې د اوبو سرعت کم ده او عمق یې زیات ده چې په مجرا کې د موادو د رسوب سبب ګرځي.

همدارنګه $Y_1$ او $Y_2$ عمقونو ته متناوب اعماق یا sequent depth ویل کیږي.

# ۲,۲د بحراني حالت د معادلې ثبوت

Q= AV => V= Q/A




dA = dy * T

T= $\frac{dA}{dy}$

$$E = Y + \frac{V^2}{2g}$$

$$E = Y + \frac{Q^2}{A^2 * 2g}$$

$$\frac{dE}{dY} = \frac{dy}{dY} + \frac{Q^2}{2g * 2A^3} * \frac{dA}{dY}$$

$$0 = 1 + \frac{Q^2 * -2A^{-3}}{2g} * \frac{dA}{dY}$$

$$0 = 1 - \frac{Q^2 * T}{g * A^3}$$

$1 = \frac{Q^2 * T}{g * A^3}$ .................................. (I)

$$\frac{Q^2 * T}{T * g} = \frac{g * A^3}{g * T}$$

$\frac{Q^2}{g} = \frac{A^3}{T}$ ................................... (II)

د I او II معادله د بحراني حالت معادله په نوم یادیږي چې د نومړو معادلو په ذریعه کولای شو د مختلفو مجراګانو عمق په تحلیلي طریقه پیدا کړو.

T= د اوبو د ازادی سطحې عرض

# ۲,۳د بحراني عمق محاسبه په مسطيلي کانال کې

A= b*$Y_c$




د بحراني حالت په معادله کې د A قیمت پر ځای د مستطیلی مقطع مساحت وضع کو.

لکه څرنګه چې مستطیلی کانالو کې د بستر عرض د اوبو د ازاد سطح عرض سره مساوی ده نو

T=b

مخصوصه جریان q = $\frac{Q}{b}$

q$^2$= $\frac{Q^2}{b^2}$

$$\frac{Q^2 * T}{g * A^3} = 1$$

$$\frac{Q^2 * T}{g * b^3 * {y_c}^3} = 1$$

$$\frac{Q^2 * b}{b * b^2 * {y_c}^3 * g} = 1$$

$$\frac{q^2}{g * {y_c}^3} = 1$$

$$\frac{q^2}{g} = {y_c}^3$$

$$y_c = (\frac{q^2}{g})^{\frac{1}{3}}$$

**مثال:** که چیري په یو مستطیلي کانال کې مقدار د جریان ۱۰ مترمکعب پر سانیه وي او د کانال د بستر عرض ۶ متر وی نو تاسی د په نوموړي کانال کې بحراني عمق پیدا کړي.

**جواب:**

Q= 10 m$^3$/s

b= 6m

q=?

$Y_c$ =?

q = $\frac{Q}{b} = \frac{10}{6} = 1.7 \frac{m^3}{sec*m}$ جریان مخصوصه

$y_c = (\frac{1.7^2}{9.8})^{\frac{1}{3}}$ => $Y_c$ = 0.65

# ۲,۴په ذوذنقه مجراء کې د بحراني عمق محاسبه

په ذوذنقی مقطع کې بحراني عمق د ستراوب په طریقه محاسبه کیږي.

$$Y_c = 0.81\left(\frac{\Psi}{m^{0.75} * b^{1.25}}\right)^{0.27} - \frac{b}{30m}$$

m = میلان جانبی

چې نومورې فورمول يي د لاندې شرط د تطبيق څخه وروسته پيشنهاد کړي.

$$0.1 < \frac{Q}{b^{2.5}} < 2.2$$

**مثال:** د یو ذوذنقه یی کانال د لاندې ارقامو په نظر کې نیولو سره بخراني عمق د ستراوب په طریقه محاسبه کوو.

**حل:** اول یی دستراوب د معادلې شرط مطالعه کوو. چې ایا نوموړې فارمول د ستراوب په معادله حل کیږي یا نه.

$Q = 17\ m^3/sec$ $\quad 0.1 < \frac{17}{6^{2.5}} < 2.2 \quad => 0.1 < 0.19 < 2.2$ ✓

b= 6m که چیرته نوموری شرط تطبیق نشو نو بحراني عمق د ګرافیک او یا د نورو طریقو په مرسته پیدا کوو

m= 1:2 چې دلته یوازې مونږ د ستراوب طریقه مطالعه کوو.

$$\Psi = \frac{\alpha Q^2}{g} = \frac{1(17)^2}{9.81} => 29.5$$

$$Y_c = 0.81\left(\frac{29.5}{2^{0.75} * 6^{1.25}}\right)^{0.27} - \frac{6}{30*2} \quad => \quad Y_c = 0.86m$$

# دريم فصل

## ۳/۱ (يو نواخت جريان) Uniform flow

يو نواخت جريان ده چې نظر په فاصله عمق او سرعت د جريان ثابت وي.

$Y_1=Y_2=\frac{dy}{dx}=0$

$V_1=V_2=\frac{dy}{dx}=0$

هغه قوه چې د مايع د حرکت باعث ګرځي د ځمکې د جاذبې قوه په نوم يادېږي. همدارنګه هغه قوه چې د مايعاتو د جريان خلاف حرکت کوي د اصطکاک قوي په نوم سره يادېږي.

چې دواړه قوې په مختلفو عواملو پورې اړه لري مخصوصاً د کانال ميلان، مقدار د جريان او داسې نور عوامل.

لکه چې دواړه قوې په سرخلاصو مجرا کې مساوي شي نو uniform flow منځ ته راځي.

همدارنګه کله چې اوبه د جريان حالت کې وی نظر د سرخلاصې مجرا مقطع کې بعضی وخت uniform جريان او بعضې وخت no uniform وي. (۳ او ۴ شکل ته مراجعه وکړی)




$Y_n$= normal depth= depth of uniform flow

نارمل عمق : د uniform جريان عمق ته نارمل عمق وايي يعنې هغه عمق چې په يو فاصله کې د اوبو سرعت ثابت پاتې شي د نارمل عمق په نوم يادېږي.



W*SIN$\theta$ قوه د اوبو د حرکت سبب چې په مقابل کې د کانال د bed او slide قوه (resistance) چې د کانال د زیروالي پورې اړه لري د اوبو د حرکت په مقابل کې حرکت کوي.

هرڅومره چې د سرخلاصی مجرا سطح د اوبو سره په تماس کې وی په هماغه اندازه به resistanceیعنې مقاومت قوه وي.

کله چې W* SIN$\theta$ قوي مقدار زیاتیږي نو د اوبو سرعت زیاتیږي او عمق یې هم تغیر کوي. کله چې د resistance قوي مقدار زیات د اوبو سرعت کم کیږي او عمق یې زیاتیږي.







**د Uniform جریان د محاسبه کولو لپاره د شیزي او ماننګ فورمول څخه ګټه اخیستل کیږي.**

Chezy یو فرانسوی انجینیر چې مکمل نوم یې Antoine Chezy ده په ۱۷۶۹ په لومړی ځل د resistance formula لپاره د (C) قیمت تعین کړ. چې د نوموړي په نوم یاد شو.

$C=\frac{1}{n}*R^{\frac{1}{6}}$ $Q=A*C\sqrt{R*C}$

**د شیزي معادلې ثبوت:** یو مستطیلي مقطع چې لوند شوی محیط یې (p) او طول یې L وی په نظر کې نیسو

د مقاومت قوه یا resistance force په مجرا کې د مجرا او د بستر د اصطحکاک څخه منځ ته راځي او د اوبو

د جریان خلاف حرکت کوي. نو یو نواخت جرایان هغه وخت منځ ته راځي چې د جاذبي قوه $F_g$ = $F_{fr}$ مقاومت

یا د اصطحکاک قوه.

$F_f$ =

P*L*K*$V_m^2$

$F_g$ = G * SIN$\theta = \gamma * A * L * SIN\theta$

Assumption

$$\frac{Resistance}{unit\ Area} = K * v_m^2$$

$$\sqrt{\frac{\gamma}{K}} = C$$

R= A/P




K= constant of proportionality

(K*L*P)/ (P*L*K*$V_m^2$) = ( $\gamma * A * L * SIN\theta$)/ (K*L*P)

$V_m^2 = \frac{\gamma}{K} * \frac{A}{P}$ * Sb

$\sqrt{V_m^2} = \sqrt{\frac{\gamma}{K}} * \sqrt{\frac{A}{P} * sb}$ => $V_m$ = C *$\sqrt{R * S}$

Q = A* V

Q = A*C$\sqrt{R * S}$.....................I

مثال : که چیرى د یوي نیم دایروي کانال قطر d= 1m او میلان يې S= 1:4500 وى د شیزي ضریب C=45 وى نو په نوموړى کانال کې د اوبو د مقدار جربان په let/sec بیدار کړئ.

جواب:

Q = A* V

Q = A*C$\sqrt{R * S}$

A= $\frac{\pi d^2}{8} = \frac{3.14*(1)}{8} = 0.393\text{m}^2$

P= $\frac{\pi d}{2} = \frac{3.14*(1)}{2} = 1.52m$

R=$\frac{A}{P} = \frac{0.393}{1.52}$

Q = A*C$\sqrt{R * S} = 0.393 * 45 * \sqrt{0.25 * \frac{1}{4500}}$

Q= 0.132 $m^3$/sec=>0.132 $m^3$/sec * 1000 let/sec

Q= 132 let/sec

## ۳٫۲ د زیږوالي ضریب (equivalent roughness coefficient)

مخکې له دی چې د زیږوالي معادل ضریب باندې بحث وکړو لومړی د زیږوالي ضریب د تعینولو طریقه باندی خبرې کوو.

د درشتي یا زیږوالی ضریب د کانال د بستر او د side د مقاومت د جریان په مقابل کې ښی.

په عمومی توګه سره تول اجسام زیږوالي لری هتي که چیری شیشه په مایکرسکوپ کې ولیدل شی نو زیوالی یی معلومیږي.

په هایدرولیک کې د زیږوالي ضریب په عدد ښودل کیږي یعنې واحد نه لري.

### نو د زیږوالي د ضریب د تعینولو لپاره د لاندي طریقو څخه استفاده کیږي.

1. Strickler رابطې څخه په استفادې سره:

$d_{s0}^{1.6}$= د خاورې د متوسطو ذراتو اندازه ده

$$N = \frac{d_{s0}^{1.6}}{21.1}$$

پورتنې رابطه اکثراً په طبعی مجراګانو کې استفاده کیږي.

2. Mayer د مایر د رابطی په واسط: نوموړې رابطه په کوهستاني مجراء کې چې د جدارونو مواد یې عموماً درشت دانه وي

$$N = \frac{d_{s0}^{1.6}}{21.1}$$

## ۳,۳د زیږوالي ضریب (equivalent roughness coefficient)

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شو چې د کانال د بستر زیږوالی د ضریب په تعین کې اساسي رول لری نو په عمل کې امکان لري چې د کانالونو د زیږوالي د کانال په مختلفو برخو کې مختلف وي یعنې امکان لري چې د bed زیږوالي ضریب د side د زیږوالي سره توپیر ولري.

نو په محاسبه کې یو معادل ضریب ته ضرورت ده ترڅو وکولای شو چې مقدار د جریان په سرخلاصو مجراګانو کې په صحیح دول سره محاسبه کړو.

$$\frac{N_{max}}{N_{min}} < 1.5 - 2$$

1. د هورټون انستاین رابطه (Horton Einstein): که چیرته بره شرط صدق وکړي نو د لاندې رابطې څخه کار اخلو.

$$N\ mean = N\ eq = \frac{P_1 * N_1 + P_2 * N_2 + \ldots\ldots\ldots P_n * N_n}{P_{totoal}}$$

که چیرته لاندې شرط صدق وکړي نو:

$$\frac{N_{max}}{N_{min}} > 1.5 - 2$$

$$N\ mean = N\ eq = \left(\frac{P_1 * N_1^{3/2} + P_2 * N_2^{3/2} + \ldots\ldots\ldots P_n * N_n^{3/2}}{P_{totoal}}\right)^{2/3}$$

2. د پاولوفسکي رابطه (powlovsky):

$$N\ mean = N\ eq = \left[\frac{\sum(N_i * P_i^2)}{P_{totoal}}\right]^{1/2}$$

3. لوتر رابطه (lotter)

$$N\ eq = N\ mean = \frac{P_{total} * R_{total}^{5/3}}{\sum\left(P_i * \frac{R_i^{5/3}}{N}\right)}$$

ماخذ هایدرولیک انجنیری مجراهای باز و بسته (پوهاند دوکتور محمد قاسم صدیقی )

**مثال:** د یو ذوذنقی يي کانال چې جانبي میلان یی 1:1 وی د بستر عرض یی 3 متره وی، د بستر د زیږوالي ضریب یی N=0.02 او د جانبي میلان ضریب یی N=0.014 وي په نوموړي کانال کې د اوبو مقدار جریان په داسې حال کې پیدا کړئ چې د اوبو عمق یی 2 متره وي او طولاني میلان يي S = 0.001 وی




P1=P3=> y * $\sqrt{1+m^2} = 2*\sqrt{1+1^2} = 2.83m$

$P_2$=3m

P=$P_1$+ $P_2$+ $P_3$= 2.83+3+2.83 => 8.66m

د ۱ او ۳ ساحه مساحت پیداکوو.

$A_1$=$A_3$=>$\frac{my*y}{2}$ => $\frac{1*2*2}{2} = 2m^2$

د دوهم ساحه مساحت پیداکوو.

$A_2$= b*y=> 3*2= 6m$^2$

Total Area = A=$A_1$+ $A_2$+ $A_3$=2+6+2= 10m$^2$

د 1 او 3 ساحې هایدرولیکي شعاع پیداکوو.

$R_1$=$R_3$=$\frac{A_1}{P_1}$ => $\frac{2}{2.83} = 0.707m$

$R_2$=$\frac{A_2}{P_2}$ => $\frac{6}{3} = 2m$

R=$\frac{A}{P}$ => $\frac{10}{8.66} = 1.155m$

- په اساس د رابطې د هورتون د معادل ضریب پیدا کوو.

$$N\ mean = \left[\frac{2(2.83)*(0.014)^{3/2} + 3*(0.02)^{3/2}}{8.66}\right]^{2/3} = 0.0162$$

- د پاولوفسکي رابطې په اساس معادل ضریب پیداکوو.

$$N\ mean = \left[\frac{2(2.83)(0.014)^2+3*(0.02)^2}{8.66}\right]^{1/2} = 0.0163$$

- د لوتر د معادلې په اساس د زیرِوالي معادل ضریب پیدا کوو.

$$N\ mean = \frac{8.66*(1.155)^{5/3}}{2*2.83\frac{(0.707)^{5/3}}{0.014}+3*\frac{2^{5/3}}{0.02}} = 0.0157$$

اوس نو نظر د معادل ضریب ته مقدار د جریان پیدا کوو.

I. اول مقدار د جریان نظر په معادل ضریب د هورتون پیداکوو.

$$Q=\frac{1}{n}*R^{2/3}*S^{1/2}*A$$

$$Q=\frac{1}{0.0162}*1.155^{2/3}*0.001^{1/2}*10 = 21.4\ m^3/sec$$

II. دوهم په اساس د ضریب پاولوفسکي مقدار د جریان پیداکوو.

$$Q=\frac{1}{0.0163}*1.155^{2/3}*0.001^{1/2}*10 = 21.36\ m^3/sec$$

III. دریم په اساس د ضریب د لوتر مقدار د جریان پیدا کوو.

$$Q=\frac{1}{0.0157}*1.155^{2/3}*0.001^{1/2}*10 = 22.17\ m^3/sec$$

نوت ادامه لری ................................

ماخذ هایدرولیک انجنیری مجراهای باز و بسته (پوهاند دوکتور محمد قاسم صدیقی )